ليکوال : پوهنوال رسول باوري

# د طلا تپې لرغوني خزانې د پايښت دريم پړاو

لومړئ پړاو: د خزانې ځرګندېدل ؛
دوهم پړاو : په بهر نيانود اثارو د پلورلو د پلان شنډول ؛
دريم پړاو : په نړيوال موزيم کي د هغو ننداړتون ؛

دتير مېلادي ٢٠٠٦کال دسامبر په مياشت کي د ګيمې په نوم د فرانسي نامتو موزيم هغه شمير لرغوني اثار چي د نوامبر په مياشت کي د افغانستان څخه راوړل شوي وه ، ننداري ته وړاندي کړل . دا اثار د هغو توافقاتو پر بنسټ چي د افغانستان او فرانسې هېواد تر منځ تر سره شول ، د ګيمې موزيم ته د ننداړو لپاره وليږل شوه . فرانسې هېواد د ١٩٢٢ ميلادي کال را په دېخوا په افغانستان کي د لرغونو سيمو د څيړلو او سپړلو چاري پر مخ بيولي دي . په لومړيو لسو کلونو کي يې د ټول افغانستان د لرغونو سيمو د سپړلو انحصار درلود ، خو دا انحصار د افغانستان د لرغونو سيمو د زياتوالي او د نړۍ د يو شمير نور هيوادونو او له هغه جملې ، پخوا ني شوروی اتحاد ،امريکا متحده ايالات ، چاپان ، جرمني او يو شمير نور هېوادونو د ځانګړ و غوښتونو پر بنياد له منځه ولاړ او دهغه انحصاري پړاو د له منځه تللو سره سم د زيات شمير هېوادونو لرغونپوهانو ته په افغانستان کي د سپړونو او څيړنو زمېنه برابره شوه .

د نويو تړونو نواو قراردادونولاسليک د افغانستان په بيلا بيلو سيمو کي د بيلا بيلو هېوادونو دلرغونپوهانو لپاره د څيړنو او سپړنو د پيل او دوام زمينې برابري کړې . د دې سپړنو او څيړنو په ترڅ کي د افغانستان د بيلا بيلو سيموڅخه د ارزښتمونو لرغونو توکو د پيداکيدو او ځرګندېدو پر له پسې لړۍ پيل شوه . چي د افغانستان د لرغوني تاريخ د زياتي روښانتيا برسيره يې ، د سيمي او نړۍ د لرغوني تاريخ لپاره هم ارزښتمن لاسوندونه وړاندي کړل .

د دې ډول لرغونو اثارو څخه يوه په زړه پوري تاريخي خزانه د طلا تپې په نوم ياديږي ، چي نړيوال يې په لرغوني افغانستان کي د سترو مدنيوتونو او هسکو تهذيبونو پرشتون ډاډمن کړل.

لومړئ : د طلا تپې د اثارود پايښت لومړئ پړاو ( د خزانې ځرګندېدل )

په افغانستان کي د جوزجان ولايت ديوې لرغونې سيمې څخه چي طلا تپه نوميږي ، د دې هېواد يوه ارزښتمنه لرغونې خزانه تر لاسه شول. په ١٩٧٨ ميلادي کال د طلا تپې د سپړلو چاري پيل شوې . دا سپړني د پخواني شوروي اتحاد او افغانستان تر منځ د دولتي پريکړي پر بنسټ د دواړوهيوادونو د لرغونپوهانو په ګډو هڅو او پرله پسې زيار تر سره شوې . او په پايله کي د دووزرو کالو وړاندي زمانو لرغوني اثار راڅرګند او تر لاسه شول . د ا سپړني د پخواني شوروي لرغونپوهانو له خوا چي مشري د ښاغلي و.ي. سريانيدي ( V.Y.Saryanidi ) او دهغوئ افغاني ملګري لرغونپوهان چي مشري يې د ښاغلي حبيب اعظمي په غاړه وه ، تر سره شوې . سپړنو په پرله پسي توګه د ( ١٩٧٨ - ١٩٧٩ ) پوري د همدي تپې پر بيلا بيلو برخو تر سره شوې، نوموړو لرغونپوهانو د تپې بيلا بيل پخواني قبرونه او هديرې وسپړلي چي په نتيجه کي يې د ( ٧ ) او قبرونو څخه تر شلوزروزيات طلائي اثار کشف او تر لاسه کړل . او تر لاسه شوي اثاريې د خاصو مراسيمو په ترځ کي د افغانستان د وخت اطلاعاتو او کلتور وزارت او ملي موزيم مسولينو ته ورکړل ، چي تر١٩٩١ ميلادي کال پوري په ځانګړو وختونو کي د ننداري لپاره ايښوول کيدI .

دطلا تپې په اثارو کي زينتي ګاڼي لکه لاکټونه ،بنګړي،غاړه ګۍاونور ، نندارېز توکي لکه د ونو تنې ، ښاخلې ، پاڼي او ګلپاڼي ،ډول ډول مجسمي لکه د زمري، غرڅني ،مار او نورو ژويو او داسي نور تر شل زره زيات اثار چي ټول د طلا څخه جوړشوي ، فهرست او راجستر شويدي . د هغه مالي او معنوي ارزښت له مخي چي نوموړو اثارو درلود ، پټيل شوي وه چي د دي اثارو د مصونيت په خاطر بايد د ارګ په کوټې باغچي نومي ځای کي وساتل شي ، خو د ډاکتر نجيب الله د واکمنۍ په ورستيو دو کلونو کي د لا ښه ساتني په نيت يې د افغانستان بانک د خزانې سره د يوځای کيدو پريکړه وشوه . په دي ترتيب نوموړي اثار د ملي موزيم د ننداړو څخه ووتل ،او کله نا کله به د نړيوالو سمپوزيمونو او سيمنارونو پر مهال په ارګ کي دننه ( کوټۍ باغچه ) د نوموړو اثارود ننداړو زمينه برابريدل .

دوهم : د طلا تپې د اثارود پايښت دوهم پړاو (په بهر نيانود اثارو د پلورلو د پلان شنډول)

د طلا تپې داثارو راسپړل او بر سېره کول په لومړي سرد زيات شمير هېوادوالو او نړيوال دپام وړ وګرځېدل. له يوي خوا دا اثار دوه زره کاله لرغوني وه او له بل لوري د اوو قبرونو څخه تر شل زره زيات اثارو تر لاسه کول، د زياتي حيرانتيا او پاملرني وړ وه . خو د دوهم ځل لپاره د نوموړو اثارو په اړه د نړيوالو او هيواد والو زيات پام هغه وخت د دې اثار و په لور واوښت چي د تنظيمي جګړو پر مهال د نوموړو اثارو د پلورلو اوازې زياتي تودې شوي . د همدي اوازو پر بنسټ په ١٩٩٥ ميلادي کال د سپک موسسي ( Society for Preservation of

د يوي ځانګړي خبرتيا په توګه ويره وښودل چي د طلاتپي لرغوني اثار د ( Afghanistan,s Cultural Heritage اسلحو د پيرودلو لپاره روسانو ته ورکول کيږي .

ميرمن نانسي دوپري په هغه علمي غونډه کي چي د افغانستان د لرغونو او تاريخي ميراثونو د ساتلو او بيرته راګرځولو ملي کميسون له خوا په ځانګړي توګه د طلا تپي د اثارو په اړه د ربښتيا څرګندولو په نيت رابلل شوي وه ، وويل چي : داسي راپوروونه تر لاسه شويدي چي يوشمير دولتي واکمنو کسانو د روسيې څخه د اسلحو د پيرودلو لپاره د طلا تپي د اثارو د پلورلو نيت کړی دی. د دي مسئلي د سپيناوي لپاره اړينه ده چي د اطلاعاتو او کلتور وزارت روښانه څرګندوني خپري کړي ؛ په همدي غونډه کي د ملي کميسون له خوا هم د طلاتپي د اثارو په اړه د ټولو موضوعاتو د سپيناوي په کلکه ملاتړ وشو. په غونډه کي د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزارت سر پرست ښاغلي والاجان وثيق لومړی خپله بي خبري وښودل او بيا يې وعده وکړل چي ډير ژربه دا مسله د راډيو او تلويزيون له لاري څرګنده کړي ، خو نوموړی هغه مهال په دې و نه توانيدئ چي د دې اثارو په اړه روښانه څرګندوني وړاندي کړي .

داسي بريښيدل چي د نوموړو اثارو د پلورلو هڅه پيل شوې وه ، د دي ناوړي هڅي لومړي ښه هغه وخت را څرګنده شوه چي د هم هاغه کال د مارچ په مياشت کي د انيس ورځپاڼي د نجيب پوپل تر نوم لاندي ( د هغه وخت د موزيمونو رئيس ) په يوه مرکه کي په جعل دا مطلب خپور کړ چي د طلا تپي ټوله لرغوني اثار د پخواني کمونيست رژيم واکمنانو روسانو ته ورکړيدي. د دي مطلب د خپريدو وروسته سمدستي نجيب پوپل د دي خپرې شوي ليکني د ترديد لپاره هڅه وکړل، داچي دا ليکنه يوه ساده تيروتنه نه ، بلکي د کوټلي او پخې اجندا يوه برخه وه ، نو ځکه د نجيب پوپل ليکونو او مقالو د خپريدو چانس نه درلود .

په کابل کي ټولو پيلو او ناپيلو خپرونو د نجيب پوپل د مقالي او مرکي خپرول نه غوښتل ، يو ځل د هينداري په نوم خپلواکي خپروني چي مشري يې ښاغلي عبدا لله پويان کوله د غفور ليوال د هڅونو پر بنسټ د نجيب پوپل د مرکي خپرولوته زړه ښه کړ خو لا هينداره د مطبعي نه وه راوتلي او نه وه توزيع شوي چي د هينداري جريدي پر مسوول مدير مرګوني حمله وشوه. دا هغه څرګند دليل وو چي زياتو کارپوهانو د دي تبليغاتي کمپاين تر شا پر بهرنيانو او په ځانګړي توګه پر روسانو د طلاتپي اثارو د پلورلو منظم پلان ليدئ ، نوځکه د هغه مهال د افغانستان د لرغونو اثارو د بيرته راستنولو ملي کميسون ټولو غړو و پتيل چي د کميسون تر نوم لاندي ، بايد د دې مسلې د سپيناوي لپاره هر اړخيزي هڅي وشي .

پريکړه وشوه چي د کميسون دوه تنه غړي(عبدالله پويان او رسول باوري) پيښور او اسلام اباد ته لاړ شي ، د توان تر برېده د نړيوالو خبري رسنيو او په پاکستان کي د ميشتو هېوادو دسفارتونو له لاري دي د افغانستان د دې نامتو تاريخي اثارو د برخليک د څرګندولو لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي . د کميسيون د پريکړي سره سم ، ټاکل شويو غړو په پيښور او اسلام اباد کي د افغانستان د لرغونو اثارو د بير ته را ستنولو او د طلا تپې د اثارو په اړه د نړيوالو خبري رسنيو لکه بي بي سي، امريکا ږغ ، المان ږغ اويو شمير نور و سره مرکي او مصاحبي وکړې او هم يې د پيښور په بيلابيلو ورځپاڼو، جريدو، او مجلو کي د مقالو او ليکونو د خپروني له لاري د افغانستان د لرغونو اثاروقاچاق ،د ملي موزيم چور او تالان، او په ځانګړي توګه د طلا تپې د اثارو د ناڅرګند برخليک لوري ته د هېوادوالو او نړيوالو پام واړاوه. د دې تر څنګ يې د يو شمير اغيزمنو شخصيتونو سره د لېدنو کتونوپر مهال د افغانستان پر کلتوري زيرمو د چور او تالان ناوړه حالت بربنډاو په دې چارو کي يې د ککړو حلقو نومونه څرګند کړل .

د همدې تبليغاتي کمپاين په ترڅ کي د مير من نانسي دوپري په مشرئ د سپک ټولني غړو په پاکستان کي د بيلا بيلو هېوادو نو ميشتو سفيرانو ( ايتاليا ،فرانسې ،يونان او قبرس ) هم د طلا تپې د لرغونو توکو د ناڅرګند برخليک په اړه دا ويره د نوموړې ټولني له لوري په يوه خپره شوې اعلاميه کي څرګنده کړه . د همدي تبليغاتي کمپاين او هياهو په نتيجه کي د کابل د دفاع چارو وزير شهيد احمد شاه مسعود هغه مهال دکلوله پشتې سيمي په يوې ودانۍ کي دافغانستان د لرغونو اثارو د بيرته راستنولو د ملي کميسيون د يوشمير غړو سره ولېدل او د هغوی ته يې د طلاتپي اثارو د مصونيت او نه لاس وهني ډاډ ورکړ . د زيات شمير کار پوهانو په باور د افغان کلتور پالو ، د افغاني کلتور نړيوالو دوستانو او نړيوالو کلتوري ټولنو په مرسته د طلا تپې لرغوني اثار وژغورل شوه . که په خپل وخت دا تبليغاتي نړيوال کمپاين او هياهوئ نه وای تر سره شوئ ، ښايې د طلا تپې اثار به هم د ملي موزيم د نورو اثارو په څير د توپک سالارانو د موخو بلهاري شوي وای . اوس دا دئ له نيکه مرغه د ا دوه زره کلن لرغوني اثار په هيواد کي تر اوسنی واکمني اداري رارسيدلي دي .

تير ميلادي ٢٠٠٦ کال هغه مهال چي د طلا تپې اثار د ارګ په ماڼۍ کي د ننداري لپاره ايښودل کېده د افغانستان اولسمشر يې د پرانستلو چارو ته راغلئ ؤ . په دې اړه د بي . بي . سي . را ډيو داسي خبر خپور کړ :

د باختري پير د سرو زرو ځينې ګاڼې د افغانستان د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې ننداري ته نن ( د سلواغې ١٥ اود ٢٠٠٦ زيږديز کال د فبروري ٤ ) وړاندې شوي دي .

د ۲۰۰۰ بیلا بیلو گانو له ډلي څخه ایله ۲۵ په دغي ننداري کي ایښودل شوي دي .
دا له ۱۹۸۹ کال څخه راهیسته لومړنی ځل دی چي د دغۀ پیر اثار په افغانستان کي ننداری ته وړاندي کیږي .
ګڼ شمیر کسانو د دغو اثارو ننداره وکړه چي د ولسمشر کرزي په ګډون پکي لوړ پوړي چاروکي هم شامل وو .
۳ _ د طلا تپي د اثارو دریم پړاو ( په نړیوال موزیم کي د هغو ننداړتون )
له نیکه مرغه دا اثار اوس د نړۍ په یوه نامتو موزیم ( ګیمي موزیم ) کي د ننداري لپاره د ۲۰۰٦ مېلادي کال د دنوامبر په میاشت کي د یوه علمي - اداري هئیت په ملګرتیا راورسېدل ، د دي هئیت په تر کیب کي د کوشاني څیړنونړیوال مرکز مشر ښاغلئ محقق نظر محمد عزیزي ، د کابل پوهنتون د لرغونپوهني څانګي علمي غړی پوهنوال عصمت ا لله عُثماني او د افغانستان ملي موزیم لوړ رتبه اداري کارکونکو ونډه درلوده .






مینه وال کولای شي چي د ګیمي موزیم پته و ویني :
/http://www.guimet.fr
او دا هم
sid=aCDXwOmye1Dk&http://quote.bloomberg.com/apps/news?pid=20601088